




# Orientation to Ontario

## د مصرفوونکي حقونه او مسؤلیتونه

### حقونه او مسؤولیتونه

په اونټاریو کې ټول خلک د مصرفوونکي د خوندیتوب قانون په پلي کېدو سره د ناعادلانه سوداګریزو معاملو څخه خوندي دي.

### د مصرفوونکي حقونه

- د پلور هڅونه یا اعلانات باید داسې نه وي چې پیرېدونکی غلط یا فریب ورسره وشي.
- قراردادونه باید روښانه او د پوهېدو لهپاره اسانه وي.
- د تړون له لاسلیک کولو وروسته د "کولینګ آف دوره" یا د فکر کولو دوره وي - که چېرې په دې موده کې د جنس د خرید په اړه ستاسو فکر بدل شو او پیښمانه شوئ قرارداد لغوه کولی شئ.
- که تاسو هغه توکي ترلاسه کړئ چې تاسو یې غوښتنه نه وه کړې، تاسو اړ نه یئ چې ویې منئ او پیسې ورکړئ.
- د توکو او خدمتونو تحویل باید په خپل وخت ترسره شي.
- که په محصول یا خدمت کې یو څه غلط وي، پلورونکی باید ستونزه په مناسب وخت کې حل کړي.


د مصرفوونکي مسؤلیتونه - د یوه مصرفوونکي په توګه تاسو د دې کارونو د ترسره کولو مسولیت لرئ:

- له پیرودلو وړاندې د محصولات په اړه پلټنه وکړئ او پرتله یې کړئ.
- د خدمتونو چمتو کوونکو وړتیاوې او بیاکتنې وګورئ.
- د هغو محصولاتو په اړه لاربښوونې تعقیب کړئ چې تاسو یې اخلئ.

ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو هر هغه څه ترلاسه کوئ چې تاسو یې پیسې ورکړې دي.

### څېرنه وکړئ

- دا مهمه ده چې د توکو د اخیستو یا خدمتونو غوښتلو وړاندې ځینې څېړنې ترسره کړئ.
- ډیری پلورنځي ځانګړی یا موسمي پلور او ځانګړی اونیز پلور لري. کله چې په آنلاین بڼه څه اخلئ پروموشنل کوډونه وکاروئ.
- د ورځنیو خوراکي او کورنۍ د اړتیا و توکو د اخیستو لهپاره کولی شئ په بېلابېلو پلورنځیو کې نرخونه پرتله کړئ او اوونیزو خبرتیاوو ته وګورئ. ځینې پلورنځي به د خپلو سیالانو له نرخونو سره سمون ولري.
- که توکي مو ګران اخیستي وي د پرچون پلورونکي ویبپاڼې وګورئ، پلورنځي ته لاړ شئ یا د پوښتنو لهپاره د پیرودونکو خدماتو لاین ته زنګ ووهئ.
- کله چې لوی پیرود کوئ په ویبپاڼو او خپرونو کې د نورو پیرودونکو آنلاین بیاکتنې ولولئ، چې د دوی لوستونکو لهپاره محصولات ازمایي.
- کله چې په انلاین بڼه سودا کوئ ډاډ ترلاسه کړئ چې قیمت په کاناډایي ډالر لیکل شوی.
- کله چې له امریکایي شرکتونو څخه په انلاین ډول



1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o



Funded by / Financé par

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

پېرود کوئ تاسو ممکن د نړیوالو بار وړلو، کاناډا مالیاتو او ګمرکي محصولاتو لهپاره اضافي لګښت ولرئ.

## تړونونه

دا ستاسو مسؤلیت دی چې تړونونه یا قراردادونه په دقت سره ولولئ. که قرارداد په انګلیسي لیکل شوی وي او تاسو یې د لوستلو لهپاره مرستې ته اړتیا ولرئ، د قرارداد بیاکتنې لهپاره اضافي وخت وغواړئ.

قرارداد کور ته راوړئ او له لاسلیک کولو وروسته یې بېرته راوړئ. کله چې یو کس استخداموئ چې ستاسو په کور کې کار وکړي د قرارداد غوښتنه وکړئ. ځینې عام قراردادونه عبارت دي له:

- د اجارې او کرایې قراردادونه
- د ګرځنده تلیفون خدمتونو پلانونه
- موټر یا سوداګریز پورونه
- د موټر یا لاری کرایه کولو تړونونه
- د جم غړیتوب
- د کرېډېټ کارت تړونونه
- د بیمې پالیسي
- د کور ترمیم قراردادونه

## شکایتونه کول

- که تاسو په اخیستل شویو توکو یا خدمتونو کې ستونزه لرئ تاسو کولی شئ شکایت وکړئ. دا له تاسو او راتلونکو پیرودونکو سره مرسته کوي.
- لومړی ګام دا دی چې شرکت ته زنګ ووهئ، ستونزه تشریح کړئ او له دوی څخه یې د حلولو غوښتنه وکړئ. تاسو ممکن له مدیر یا څارونکي سره خبرې وکړئ.
- که ستونزه حل نه شي تاسو کولی شئ شرکت ته ولیکئ. ستونزه په مشخصو جزیاتو تشریح کړئ، د حل غوښتنه وکړئ (لکه ترمیم یا بېرته ستنول)  او واضح کړئ چې که دوی ستونزه حل نه کړي تاسو څه کوئ.

  که شرکت ستاسو  غوښتنه ځواب نه کړي تاسو اختیار لرئ هغه څه وکړئ چې مخکې مو دوی ته ویلي و.

- تاسو کولی شئ د اونټاریو د حکومت او مصرفوونکو خدمتونو وزارت او د غوره سوداګرۍ بیورو (BBB) ته رسمي شکایت درج کړئ..
- که ستونزه د ډېرو پیسو یا د ارزښت لرونکو توکو اړوند وي، د کوچنیو ادعاګانو په محکمه کې هم دعوه کولی شئ.

### سرچینې

Ontario Ministry of Government and Consumer Services

consumer-protection-ontario

Better Business Bureau (BBB)

bbb.org/en/ca

